افغانستان سره د آلمان همکاری

# د ټولو لپاره غوره مسلکي یا حرفوي ښوونه او روزنه





## وضعيت

په افغانستان کې ځوانان د منظم کار د موندلو په هڅه کې دي. د شاوخوا ۳.۲ مليونه ځوانانو له ډلې چې مسلکي ښوونځي ته د تګ حق لري، یوازې د دوه فیصدو څخه لږ یې د ښوونځي پر بنسټ د مسلکي روزنې له پروګرام څخه فارغ شوي دي. ډېری کورنۍ نشي کولی خپل ماشومان مسلکي ښوونځي ته واستوي، حتی که روزنه یې وړیا هم وي. په سلو کې شل ځوانان په کوچنیو کارځایونو کې د کار په زده کړه بوخت دي.

په افغانستان کې شاوخوا نیمايي ځوانان هیڅکله هم ښوونځي ته نه دي تللي او رسمي دوديزې زده کړې يې نه دي بشپړې کړې. ډېری نالوستي افغانان د ورځنیو مزدورانو یا د واټ پر سر د پلورونکو په توګه کار کوي. مګر دا غیر رسمي کار خوندي نه دی او د مسلکي کارکوونکو په پرتله خورا لږ عاید لري.

ښځې په ځانګړې ډول له زده کړو بې برخې دي. اویا سلنه نجونې نه د عمومي زده کړې ښوونځي او نه مسلکي ښوونځي ته ځي.

د حرفوي زده کړې او روزنې په اداره او مدیریت کې هم نیمګړتیاوې شتون لري. د مسلکي یا حرفوي ښوونځیو او روزل شوو ښوونکو شمیر کم دی او

| لنډه کتنه | |
|---|---|
| پروګرام | د تخنيکي او حرفوي زده کړې او روزنې (TVET) ملاتړ |
| دستور ورکوونکی | د جرمني د اقتصادي همکاريو او پراختيا فدرال وزارت (BMZ) |
| شريکان | د تخنيکي او حرفوي زده کړې او روزنې چارواکي |
| پلي کوونکي سازمانونه | Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH او د KfW پراختيايي بانک |
| ولايتونه | په ټول هیواد کې (له ۳۴ څخه ۳۱ ولايتونه) |
| د پروګرام موخه | د مسلکي یا حرفوي ښوونځيو د اغېزمن سیستم رامینځته کول |



په ټوله کې د ښوونځيو تجهیزات کافي ندي. سربیره پردې د حرفوي زده کړې او روزنې سیسټم ته د هغو ښځو او ځوانانو چې ښوونځي ته نه دي تللي، د شاملولو مفکوره باید رامینځته او وازمیل شي.

## موخه

د افغان-المان پرمختیایی همکاري په افغانستان کې د ځوانانو کاري فرصتونه ښه کوي. دا پرمختګ راتلونکو مسلکي خلکو او همدارانز له زده کړې بې برخې خلکو ته رسیدنه کوي. په ځانګړې توګه د میرمنو ملاتړ کېږي.

نوي، ښه سمبال شوي مسلکي ښوونځي به جوړېږي او ښوونکي او د ښوونځي اداري به ښه روزل کیږي. دودیزې پانګوني دوه ګوني روزنې ته لاره هواروي او د نالوستو خلکو لپاره د زده کړې نوي مسلکونه او روزنيز فرصتونه رامينځته کوي.

## اقدامونه او پايلي

د آلمان د اقتصادي همکاريو او پراختيا د فدرال وزارت (BMZ) په استازیتوب، Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH او KfW پراختيايي بانک د ۲۰۱۰ کال راهیسې د رسمي مسلکي ښوونځیو د اغېزمن سیستم په رامینځته کولو او د ځوانانو د کارموندنې د ورتیاوو په ښه کولو کې د افغانستان له حکومت سره مرسته کوي.



٤٠٠ زده کوونکي په نوو مسلکي یا حرفوي ښوونځيو کې زده کړه کوي

### د مسلکي ښوونځيو لپاره ودانۍ او تجهیزات

حرفوي یا مسلکي زده کړو ته د لا زیاتو ځوانانو د لاسرسي په موخه څلور نوي ښوونځي او د ښوونکو د روزنې دوه اکاډمۍ په شمالي ولايتونو لکه بلخ، کندز او تخار او همدارانز په کابل کې رامینځته شوي دي. اوس مهال شاوخوا ۴۰۰ زده کوونکي دې نوو ښوونځيو ته ځي چیرې چې شاوخوا ۳۰۰ ښوونکي تدریس کوي.

دا ښوونځي د هنرونو، ټيکنالوژۍ، معلوماتي ټکنالوژۍ، د سوداګرۍ د مديريت په مهارتونو او کرنې برخو باندې تمرکز کوي. د بلخ ولايت په مرکز مزار شريف کې د يو عصري روزنيز کمپ په چوکاټ کې درې مسلکي ښوونځي، يو ګڼ موخيز تالار، وړکتون، د استوګنې خونې او د شاوخوا ۲۰۰۰ زده کوونکو لپاره تفريحي ځايونه شتون لري. دا ودانۍ ښه فعاله ده، لږې ساتنې او پالنې ته اړتيا لري، د انرژي د مصرف او چاپيريال ساتنې له نظره ښه جوړه شوې ده. د لمريزې بريښنا سيستم د مسلکي ښوونځي ساحې ته بريښنا چمتو کوي او د لندې ځمکې (wetland) جوړ شوی سيستم د ناولو اوبو د اداره کولو لپاره کارول کيږي. د دې ودانۍ د جوړولو چارې سيمه ايزو شرکتونو ته ورکړل شوې وې ځکه نو دې پروژې ځايی دندې هم رامينځته کړې دي. د نورو ښوونځيو د جوړولو، پراخولو يا بيارغونې او سمبالولو لپاره هم چمتووالی نيول شوی دی.

سربيره پردې، تر دې دمه ۵۰ مسلکي ښوونځيو د دې پروګرام د يوې برخې په توګه درسي خونې او د ورکشاپ تجهيزات ترلاسه کړي دي.

## د ښوونکو روزنه

د مسلکي يا حرفوي ښوونځيو شاوخوا ۸۵ سلنه ښوونکي د دې وړتيا نه لري چې خپل اړوند کسب تدريس کړي. دوی عملي تجربه او د ښوونې مهارتونه نه لري. د ښوونکو ګمارلو نوی بهير د مسلکي ښوونځيو ښوونکو ته دا وړتيا ورکوي چې په مسلکي ښوونځيو کې روزنه ورکړي. د روزنې يو عصري مفهوم ښوونکي د خپلې ورځنۍ عملي او نظري ښوونې او روزنې لپاره ښه چمتو کوي. له دې امله، ټاکل شوي ښوونکي په داسې روزنه کې برخه اخلي چې له دوی څخه غوره روزونکي جوړوي. له ۲۰۱۲ کال راهيسې، د مسلکي ښوونځيو شاوخوا ۱۵۲۰۰ ښوونکي روزل شوي چې ۲۲ سلنه يې ښځې دي.

سربيره پردې، د ښوونځي مديران او اداري پرسونل له ۱۰۰ څخه په ډيرو ورکشاپونو کې چې له ۲۴۰۰ څخه ډيرو کسانو پکې ګډون کړی وو، روزل شوي دي. د پرمختګ د اقدامونو يوه مهمه برخه د پوهنې د مسؤلينو تر منځ مستقيم تعامل دی. له دې امله، د مسلکي زده کړې او روزنې د سيستم ولايتي سرښوونکي او مديران په منظم ډول په کنفرانسونو کې د بوديجې، زده کړې او د نظارت د پروسيجرونو په اړه بحث کوي.

## د دوديزې شاګردۍ د روزنې عصري کول

د دوديزو صنايعو او سوداګرۍ روزنيز ترينګ ته د دولت يا ټولنې په کچه لږه پاملرنه شوې ده. په هرصورت، دا اوس امکان لري چې شاګردان د دوی د کار سربيره په اونۍ کې تر دريو ورځو پورې مسلکي ښوونځي ته لاړ شي. په ښوونځي کې، دوی د خپلو مسلکونو د شاليد په تړاو پوهه ترلاسه کوي او د پرمختللو ټيکنالوژيو په اړه زده کړه کوي. دا مهال شاوخوا ۲۰۰۰ تنه زده کوونکي ۱۸ ښوونځيو ته ځي په داسې حال کې چې د دندې پرمهال روزنه ترلاسه کوي.

## د نالوستو خلکو او ښځو لپاره روزنه

د مسلکي ښوونځي د عمر شاوخوا نيمايي ځوانان نالوستي دي. دوی به وکولی شي په نږدې راتلونکي کې غږيز درسونه او د ويډيويي زده کړې توکي وکاروي ترڅو د دوی مسلکي مهارتونه لوړ کړي او د دوی د کار کيفيت لوړ شي.

دا پروګرام په پام کې لري څو په افغانستان کې ميرمنو ته ځانګړي خدمتونه وړاندې کړي. ډيری افغان ميرمنې نالوستې دي او په کور کې کار کوي. د آډيو - ويډيو ښوونې دې ميرمنو ته فرصت ورکوي چې د کورني اقتصاد په اړه خپله پوهه پراخه کړي. سربيره پردې، نجونې او ميرمنې په مسلکي ښوونځيو کې د ادارې، معلوماتي ټکنالوژۍ او وترنرۍ په برخو کې روزل کيږي.

## د خورا ماهرو متخصصينو لخوا روزنه

د حرفوي يا مسلکي زده کړې او روزنې پروګرام د هغو انجنيرانو لپاره چې په عاجله توګه ورته اړتيا ده او همدارنګه د تکنيشن يا استادی په کچه مسلکي کارمندانو لپاره روزنيز کورسونه چمتو کوي. دا روزنيز فرصتونه به د ځوانانو په شخصي وده او د هيواد په دوامداره تخنيکي پرمختګ کې مرسته وکړي.

## د روزنې نوي مسلکونه

د رسمي مسلکي روزنې لپاره اوه نوي روزنيزې دندې او د شاګردۍ د ټريننګ لپاره شپږ اضافي روزنيزې دندې رامنځته شوې دي. دمګړۍ ٦٣ مسلکي ښوونځي شتون لري چيرې چې ځوانان کولی شي دا روزنه بشپړه کړي.



شاوخوا ۴۳۵۰۰ ځوانانو په کارځايونو کې ځلور اونيز انترنشپ بشپړ کړی دی.

## عملي تجربه

په شاوخوا ۷۵۰ افغان کارځايونو کې عملي زده کړې (انترنشيپ) د مسلکي ښوونځيو زده کونکو ته فرصت ورکوي چې د دندې له عملي اړخ سره اشنا شي. تر دې دمه، نږدې، ۴۳۵۰۰ ځوانانو د انترنشيپ ځلور اونيزه دوره بشپړه کړې چې شاوخوا ۲۳ سلنه يې ښځې وې.


**خپرونکی سازمان:**
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH
د بون او ايشبورن، جرمني راجستر شوي دفترونه
www.giz.de
www.gc-afg.de



د انځور اخيستلو امتياز لرونکی: © KfW/PEM Consult, Siegfried Klein



Imlemented by:
پلی کونکی:



چنګابښ ۱۳۹۸



اړيکه

**ډاکټر ګوسټاو رير**

په افغانستان کې د تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې د ملاتړ د پروګرام منيجر

بريښناليک: Gustav.reier@giz.de

**روناله شتيير**

د KfW د کابل د دفتر مدير

بريښناليک: kfw.kabul@kfw.de